## مطبوعاتي اعلامیه

## 1395/11/22

افغانستان ۱۴۰۰، چې د افغانستان د نوي نسل یو سیاسي خوځښت دی، د ۲۰۱۶ کال جنګ کې د ملکي وګړو د بې ساري ډول د تلفاتو لپاره یې د کابل سیند په سور رنګ انځور کړ، تر څو د جګړې په تاوانونو عام پوهاوي شوي وي او په دې ډول په افغانستان کې د جګړې د ختمول غوښتونکې شول.

احمد جاوید شکیب چې د افغانستان ۱۴۰۰ خوځښت له غړو څخه دی وایي: په افغانستان کې د ملګروملتونو د مرستندویه پلاوي ( یوناما ) د راپور پر اساس لږ تر لږه ۱۱۴۱۸ ملکي وګړي د دغې جګړې قربانیان دي، دغه یوازي عدد نه دی او دغه ته نه باید بې تفاوته پاته شو، دغه فاجعه تکان ورکوونکي ده. دغه ارقام د وینو د سېلاب غوندي ښکاري او په افغانستان کې روان دی، موږ باید دغه وضیعت ته د ختمولو لپاره سره یو ځای شو.

د افغانستان ۱۴۰۰ خوځښت پر دې باور دی چې د افغانستان خلک د کلونه راهیسې د نړیوال تروریزم سره مبارزه کړې او نړیوال چې د تروریزم تهدید ته د جدیت پر خوا تلل، تر دغه مخکې د افغانستان خلک یې قربیانان او همدا ډول د تروریزم په وړاندې د مبارزې په لومړي کرښه کې ول.

د تروریزم سره په مبارزه کې د افغانستان د خلکو اراده نه ماتېدونکې او د دغې پدیدې سره به یې مبارزه ادامه ولري. د افغانستان جنګ د تروریزم ور اخوا هم اړخونه لري.

هغه وخت رارسېدلی دی، چې د افغانستان خلک او زموږ نړیوال ملګري د دغه جګړې ختمولو لپاره سره یو ځای شي، تر څو وکولای شو، په دې وسیله د تروریزم تهدید په وړاندې ښه او اغیزمنه مبارزه وکړو.

د افغانستان ۱۴۰۰ خوځښت د دغه نمایش په تر سره کولو د ټولو پاملرنه په جنګ کې د انساني تلفاتو او د جنګ د ختمولو ضرورت ته را اړوي.

**دا خوځښت به نور هم دغه شان فعالیتونه او هڅو ته ادامه ورکړي، یو له دغه فعالیتونو څخه د ۲۰۱۶ کال جنګ کې د ملکي شهیدانو په یاد به ۳۴۹۸ نیالګي کینول شي.**

**شهرزاد اکبر د دغه خوځښت یوه غړې وایي: ۲۰۱۶ کال کې د ملکي تلفاتو شمیر، نه باید په ۲۰۱۷ کال کې او نه هم هیڅ را روان کلونو کې تکرار شي، موږ باید په جنګ کې د ملکي تلفاتو بهیر پاي ته ورسوو، موږ د ملکي خلکو ساتنې ته اړتیا لرو او افغانستان ۱۴۰۰ خوځښت په دغو برخو کې هڅو ته هوډمن دی.**